PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسي غوره امت گرځولي ياست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

الهي لارښوونې

ای مؤمنانو! رکوع او سجده وکړئ، د خپل رب عبادت وکړئ. نیکیو ته ملا وتړئ. تر څو مو خلاصون په برخه شي. د الله په لیار کې داسې حق جهاد وکړئ چې دهغه سره ښايي. هغه تاسو غوره کړی يئ او په دين کې يې په تاسو کوم سختوالي او تنگي نه ده ټاکلې. د خپل پلار ابراهيم پر ملت ټينگ ودريږئ او الله پاک پخوا هم تاسې مسلمان نوموړلي واست او په دې قرآن کې هم ستاسې همدا نوم دی. (سورة الحج : ٧٦ - ٨٨)

نبوي ارشاد

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:
يو مسلمان د بل مسلمان ورور دی، نه دې پخپله پر هغه ظلم کوي او نه دې بل ظالم ته سپاري. کوم مسلمان چې د خپل مسلمان ورور اړتياوې پوره کوي نو الله تعالى دهغه اړتياوې پوره کوي. کوم مسلمان چې د خپل مسلمان ورور تکليف لرې کوي نو الله تعالى د قيامت په ورځ دهغه تکليف لرې کوي. کوم مسلمان چې د خپل مسلمان ورور پر عيب پرده اچوي الله تعالى د قيامت په ورځ دهغه پر عيبونو پرده اچوي. (بخاري)

شهادت دويم کال، ٨٢ مه گڼه، چهارشنبه ١٣٨٩ هـ ل د ليندی ١٧ مه د١٤٣١ هـ ق د محرم الحرام لومړی د٢٠١٠ م د دسمبر ٨ مه

د حزب اسلامي افغانستان بریالیو وکیلانو غونډه وکړه

کابل، شهادت:
د ولسي جرگې په ټاکنو کې د حزب اسلامي افغانستان له ديرشو زياتو بریاليو استازو د ليندی پر ١٥ مه د هېواد په پلازميني کابل کې د حزب اسلامي په پارلماني حويلۍ کې غونډه وکړه.
دغه غونډه چې دقرآن الکريم دمبارکو آياتونو په تلاوت سره پرانستل شوه.
په دې غونډه کې د بریاليو استازو برسېره د حزب اسلامي افغانستان رئيس او د اقتصاد وزير محترم الحاج عبدالهادي ارغنديوال، د پوهنې وزير محترم غلام فاروق وردگ، د حزب د اجرائيه شورى غړو او پخوانيو وکيلانو گډون درلود. په غونډه کې نويو وکيلانو ته د مبارکي ويلو ترڅنگ د هغوی د کاميابي او سرلوړی دعاگانې وشوې او همدارنگه د پخوانيو وکيلانو له لورې د وکيلانو د مسؤوليتونو، دندو او صلاحيتونو په اړه هر اړخيزې ويناوې وشوې.
په غونډه کې بریاليو وکيلانو په يوه خوله د حزب د مشرتابه په وړاندې د حزب اسلامي د سياسي تگلارې د پلي کولو، د افغان ملت د ستونځو د حلولو او په افغانستان کې د اسلامي نظام د تحقق لپاره د نه ستړي کېدونکو حلو ځلو تعهد وکړ.
غونډه د غرمنې وروسته په دعائيه پای ته ورسېده.

صدراعظم انگلیس: نظامیان انگلیسی تا اوایل سال ٢٠١١ میلادی افغانستان را ترک خواهند کرد

فارس نیوز:
صدراعظم انگلیس در سفر غیر منتظره روز گذشتهٔ خود به افغانستان اعلام کرد که امکان عقب نشینی نظامیان انگلیسی تا اوایل سال آینده میلادی فراهم خواهد شد.
خبرگزاری "رویترز"، "دیوید کامرون" در سفر غیررسانه‌ای خود به افغانستان از امکان عقب نشینی نظامیان انگلیسی در اوایل سال ٢٠١١ میلادی سخن گفت.
کامرون که روز گذشته وارد افغانستان شد، به انتقاداتاتی که کارآیی نظامیان انگلیسی در افغانستان را زیر سؤال برده، اعتنائی نکرد و گفت که این انتقادات دیگر حقیقت ندارند.
این در حالیست که طبق اسناد جدید

بقیه در صفحه ۴

استفادهٔ نیروهای امریکایی از سلاحهای مرگبار جدید در کشور

منابع خبری جهان:
در پي ناکامي امريکا در افغانستان، نيروهاي امريکا از سلاحهاي جديد استفاده مي کنند.
امريکا پس از آنکه از انواع بمب‌های خوشه ای در جنگ‌های عراق و افغانستان استفاده کرد،اکنون قصد دارد سلاحهاي مرگبار جديدي را در اختيار نيروهاي خود در افغانستان قرار دهد که از فشنگهای "خوشه اي" استفاده مي کنند که بسيار مرگبارتر از فشنگهاي معمولي است.
به نوشته روزنامه ديلي ميل ،اين گلوله که از تفنگ "ايکس ام ٢٥" شليک می‌شود به نوعی برنامه‌ریزی شده که در زمان خاص منفجر و ریز گلوله‌های آن به اطراف پخش می‌شوند که می تواند تلفات حملات را افزایش دهد.
ارتش امریکا امید وار است این نوع

بقیه در صفحه ۴

سعودي د ترهگرو مالي ملاتړ کوي

رسنۍ:
د امريکا په ديپلوماتيکو سندونو کې چې ويکي ليکس خپاره کړي، ويل شوي چې سعودي عربستان د القاعده، طالبانو، لشکر طيبه او حماس په شمول د سُني سخت دريځو ډلو د مالي ملاتړ تر ټولو مهمه سرچينه ده.
د امريکا د بهرنيوچارو وزارت په دې سندونو کې د سعودي عربستان چارواکي د سخت دريځو په مالي ملاتړ نه دي تورن شوي ، خو يادونه شوې چې د سعودي د

پاتې ۴ مخ

قصر سفید در حال تجدید نظر استراتیژی جنگ افغانستان است

امريکا، رسانه ها:
قصر سفيد در حال تجديد نظر استراتيژی جنگ افغانستان است، استراتيژی که يک سال قبل بارک اوباما، رييس جمهور امريکا، آن را طراحی کرد.
هدف اين استراتيژی شکست مليشه و تأمين امنيت در افغانستان بود، کشوری که از جملهٔ فقير ترين کشور های جهان است و در چند دههء اخير، شاهد بيشترين خشونت ها بوده است.
اين در حالی است که کشور های غربی تحت فشار قرار دارند تا جنگی که در سال ٢٠٠١ ميلادی در اين کشور آغاز شد، بايد خاتمه يابد.
در اين حال، رييس جمهور امريکا گفته است که قوای متحدين در سال آينده تحويل دهی مسووليت های امنيتی را به نيرو های افغان آغاز می کنند و تا سال ٢٠١۴ ميلادی، روند انتقال مسووليت امنيتی به قوای افغان پايان می يابد.
در همين حال، مقامات امريکايی گفته اند که افزايش نيرو های بين المللی در افغانستان و

بقیه در صفحه ۴

تلاش حکومت برای شفاف سازی قرارداد ها در استخراج معادن

صدای آلمان:
دولت افغانستان تلاش دارد با پيوستن به سازمان "شفافيت صنايع استخراجی"، سرمايه گذاران خارجی را جلب نمايد و زمينه استخراج معادن اين کشور را فراهم کند. "شفافيت صنايع استخراجی" که مقر آن در ناروی است، سازمانی است که در

بقیه در صفحه ۴

د کورنۍ جگړې لپاره نړيوالې هڅې روانې دي

دويم مخ

چې تير شي هغه هير شي!

درېيم مخ

اروپا په افغانستان کې د بریالیتوب تمه نه لري

تاند ويب پاڼه:
د ويکي ليکس له لوري د امريکا په افشا شويو ديپلوماتيکو سندونو کې ويل شوي چې د اروپايي اتحاديې مشرهيرمان وان رومپوي د امريکا سفير ته ويلي چې اروپايي اتحاديه نور په افغانستان کې په بریاليتوب باور نه لري، او اروپايان هلته د امريکايانو په خاطرپاته دي.
په بلجيم کې د امريکا د سفيرهاوارډ گټمن په ليک کې ،چې د ويکي ليکس له لوري خپور شوی ، د وان رومپوی هغه خبرې نقل قول شوي چې د ٢٠٠٩ کال په دسمبر کې يې کړي.
ده ويلي چې اروپايي اتحاديه به د ٢٠١٠ کال تر پايه صبر وکړي چې وگوري پرمختگ کېږي کنه.
وان رومپوی چې يو وخت د بلجيم صدراعظم وو،د دغو خبرو په وخت د اروپايي اتحاديې رييس وو.
ده د امريکا سفير ته ويلي که د ٢٠١٠ کال تر پايه پرمختگ ونه شو، دوی به دې ماموريت ته دوام ورنه کړي او دا به وروستی چانس وي.
رومپوی همداراز ويلي : "اروپا د امريکا لپاره په دې ماموريت کې شامله ده او له امريکا سره به ملگرې وي، نه د افغانستان په

پاتې ۴ مخ

پيتريوس: د٢٠١۴ تر پايه بریاليتوب په شک کې دی

تاند ويب پاڼه:
په افغانستان کې د نړيوالو ځواکونو عمومي قوماندان جنرال ډيوډ پيتريوس په دې شک څرگند کړ چې د ٢٠١۴ کال تر پايه به په افغانستان کې بری ترلاسه شي.
جنرال پيتريوس اې بي سي تلويزيون ته په مرکه کې وويل چې طالبان متحرک حالت لري ، چې په يوه سيمه کې وځپل شي، په بله کې سر راپورته کړي.
جنرال پيتريوس په دې باب څه ونه ويل چې ايا دی په دې ډاډه دی چې څلور کاله وروسته به د افغانستان امنيتي ځواکونه د دې جوگه وي چې د افغانستان امنيت او ثبات په خپله وساتي.
خو ويې ويل: "نه پوهېږم تاسو واياست اطمينان، فکر کوم هيڅ قوماندان به ونه وايي چې زه ډاډه يم چې دا کار کولی شم."
د ليزبون د غونډې له پرېکړې سره سم ټاکل شوې ده چې له راتلونکي کاله افغان امنيتي ځواکونو ته د خپل هيواد د امنيتي چارو تدريجي سپارل پيل شي او د ٢٠١۴ کال تر پايه پورې د د ټول افغانستان امنيتي چارې ورله غاړې شي.
د نړيوالو ځواکونو عمومي قوماندان وويل : "امريکايي ځواکونه تر وسه وسه هلې ځلې کوي چې په افغانستان کې بریاليتوب ممکن کړي. خو له دې سره سره بيا هم وايم چې

پاتې ۴ مخ

جنرال مايکل اوتيس: په افغانستان کې سياسي روغه جوړه د چاودنو مخنيوی کولای شي

امريکا، رسنۍ:
د امريکا يوه جگپوړي پوځي چارواکي د دوشنبې په ورځ وويل، په افغانستان کې د چاودونکو موادو د خطر د مخنيوي تر ټولو ښه لار د عراق په شان سياسي بهير دي.
چاودونکي موادو يا د سړک د غاړې بمونه او ماينونه په افغانستان کې د نړيوالو ځواکونو د مرگ ژوبلو اصلي علت بلل کېږي.
په پينټاگون کې له چاودونکو موادو سره د مبارزې د برخې مشر بريد جنرال مايکل اوتيس وويل: "په عراق کې سياسي روغه جوړه د

پاتې ۴ مخ

د کورنۍ جګړې لپاره نړیوالې هڅې روانې دي

عبدالرحمن فرقاني

په لزبون کې د ناتو د پیمان په ناسته کې بنستیزه پریکړه دا شوې ده چې د ۲۰۱۴م کال تر پایه په افغانستان کې افغاني ځواکونو ته د هیواد امنیتي چارې په بشپړه توګه وسپارل شي، د دې پریکړې اړوند سیاسي کتونکو اوڅېړنیزو مرکزونو ډول ډول لیدلوري په ډاګه کړي دي، چې پورتنی سرلیک هم د دې نوې ستراتیژۍ اړوند د "نړیوالو بحرانونو د ټولنې" د یوه راپور سرلیک دی.

ډیر کتونکي په دې باور دي چې په دې پریکړه کې د ناټو د ځواکونو شکست او ماتې نغښتې ده، خو تر وتولو وړاندې توطئه دا ده چې افغانان په خپل منځي جګړه کې ښکیل کړي، څرنګه چې د تیرې پیړۍ په نهمه لسیزه کې ښکیل وو، څکه چې د بهرني ځواکونو په وتلو سره به هغه حکومت چې د بهرنیو ځواکونو پر مټو یوازې په لویو ښارونو کې حکومتداري کوي، له واقعي ستونزو سره مخ شي، هغه حکومت چې ونه توانید چې د نهو کلو په اوږدو کې د ولس سره اړیکې ټینګې کړي، او دولس غوښتنې پرځای کړي، به دسختدریځو ډلو تریرغل لاندې ونړیږي. که چیرې یوځل بیا په افغانستان کې د حکومت واګې هغه ډلې په لاس کې اخلي چې د ناتو ځواکونو د امریکا په مشرۍ د هغه د نابودولو لپاره افغانستان ته راغلي وو، دا به د لویدیځ ځواکونو ته یو لړزونکی شکست وي، د لویدیځ پرسیاسی نظام د دغه شکست د ناوړه اغیزې د مخنوی لپاره د ناتو ځواکونو د امریکا په مشرۍ هڅه کوي چې تر ۲۰۱۴ م کال پورې د حکومت نظامی قوت دومره پیاوړی کړې، چې و کولای شی د هغو سختدریځه ډلو په وړاندې تر یوې داسې مودې مقاومت وکولای شي چې دوی ئې په دوران کې له افغانستان نه پرته له ښکاره شکست او ماتې څخه ووځي.

دا چې امریکا افغانستان ته جنګي ټانکونه راوړي او ځیني اورپایی هیوادونه سپکه وسله د افغانستان حکومتي ځواک ته ورکوی، دا ټول په لزبون کې د نوې ستراتیژۍ یوه برخه ده، تر څو په افغانستان کې د دوو متضادو ډلو تر منځ نظامی تعادل او توازن رامنځ ته کړي، چې یوه ډله هم په لنډ مهال کې د سیمه کې وګوابني. خو هغه څه چې په لزبون کې د ناتو د پیمان د ناستې د پریکړوپه هکله جوته ده هغه دا ده چې په دې پریکړه کې په افغانستان کې د اشغالګرو ځواکونو ماتې نغښتې ده ، او دنړیوالو څېړنیزو مرکزونو راپورونه په دې دلالت کوي ، چې دا لاندې راپور هم دا لیدلوری تایدوي :

د "نړیوال بحرانونو ټولنه" په خپل یوه راپور کې په ډاګه کوي ، چې لویدیځوال په افغانستان کې بریالی نه شول ، اودکال ۲۰۱۴م په پای کې دافغانستان څخه دوتلو دټاکل شوي مهال ویش په پایله کې به افغانستان د داخلي جګړې سره لاس ګریوان شي.

دامریکا په مشرۍ نړیوال اتلاف په افغانستان کې وروسته له نهو کلونو بریالی نه شو چې د طالبانو حرکت له منځه یوسي ، او د عاموخلکو تاید تر لاسه کړي ، او یو قوي او پیاوړی حکومت او امنیتي ځواک رامنځ ته کړي.

دنړیوال بحرانونو ټولنه وایي : "ډیر لږ داسې نښې او عناصر لیدل کیږي ،چې په دې دلالت وکړی چې د ناتو او امریکا ځواکونو طالبان کمزوري کړي ، او واقعت دا دی چې طالبان تر نورو وختونو زیات قوی شوي او ډیر مرکزونه او ځالې لري او پاکستان ورنه حمایت کوي ".

راپور زیاتوي چې د بیګانه وګړو وژنه د ۲۰۱۰ م کال په لومړۍ نیمه برخه کې یو په دریه لوړه شوی ده، په لزبون کې د ناتو دناستې د پریکړې پر بنسټ د ناتو نوې ستراتیژې په دې تکیه کوي چې د ۲۰۱۴م کال تر پایه باید د هیواد امنیتي چارې افغان ځواکونو ته وسپارل شي.

راپور زیاتوي :

"په پولیسو کې تمه اوفساد خپور، او په رویه کې ډیر تند رو دي ، پوځ د څو قوی کسانو له خوا اداره کیږي ، افغاني ځواکونه ته په پوره توګه ټرینګ نه دی ورکړی شوی او له صفونو نه یې عسکر تښتي ، او د طالبانو سره ډیره نا چیزه مقابله کوي ".

اوراپور په دې اند دی چې دې وتلو په هکله د ناتو ټاکل شوی مهال ویش په کال ۲۰۱۴م کې د افغانستان د کشالې حل نه دی.

دنړیوال بحرانونو ټولنه په خپل راپور کې زیاتوي : "چې له بهرني مرستې نه پرته حکومت نړیږي ، او طالبان به دهیواد په ډیره برخه واکمن شي ، او داخلي ستونزې به یوځل بیا د خپلمنځی جګړو لامل شي ، څرنګه چې د تیرې پیړۍ په نهمه لسیزه کې شوې وې "، او زیاتوي : چې دسیاسی موسساتواو محلي ارګانونو دنوښت او پرختیا لپاره او همدا راز د یوه پیاوړي قضایی نظام دجوړولو لپاره ډیر کم زیار ایستل شوی دی ، او دا خالیګاه نورو قوتونو ډکه کړې ده ، او دا ناکامي په اساسی ډول د امریکا پرلپسې ادارو ته متوجه کیږی.

پریکنده بری جوګه نه وي ، او جګړه ایز حالت په افغانستان کې ادامه پیدا کړي ، د دې تر څنګ د دولت پر ضدد مقاومت د ډلو په وړاندې د کابل د حکومت تر شا د ایران هند او روسیې مثلث هم ودروي ، چې د حکومت څخه حمایت وکړي . تر څو د افغانستان واکمنی ته هغه سختدریځه یا بنسټپاله ډلې راونه ګرځي ، هغه چې دوی ئې نابودی ته راغلی وو.

که څه هم د دغه ستراتیژۍ سره چې د ناتو ډیر هیوادونه موافق دی ، امریکا ورسره په بشپړه توګه موافقه نه ښکاري ، او نه غواړې چې د دغې ماتې په پایله کې یو ځل بیا د دوی زوړ رقیب او سیال روسیه اوپه اقتصادی ډګر کې نوی سیال چین افغانستان ته راوګرځي او د دوی اقتصادی او ستراتیژي مصلحتونه په دې

سرلیکنه

د لوی او مهربان خدای په سپیڅلي نامه

پر افغان چارواکو یوه بله ملنډه

تېره ورځ د امریکا ولسمشر بارک اوباما په یو نااعلان شوي سفر کابل ته راغې او سیده د بګرام پر هوایی اډه چرته چې امریکایي فوځونه میشت دي ښکته شو. او خپلو فوځونو ته یې یوه لنډه وینا وکړه، اوباما د خپلو خبرو په ترڅ کې دا هم وویل چې امریکایي فوځیان اوس له دفاعي حالته وتي او د برید په حال کې دي اول خو دا چې امریکایي فوځونه کله هم د دفاع په حال کې نه، بلکې همېشه د برید په حال کې و او دي زموږ په بې ګناه او بې دفاع افغانانو یې بریدونه او ړندې بمبارۍ کړي نه ترې ښادۍ پاتې او نه ترې چا خپل غم ژړلی، ودونه، جنازې او حتی په ښوونځیو کې پر زده کړو بوخت کوچنیان یې هم تر خپل وحشیانه بریدونو لاندې راوستي او شهیدان کړي.

دوی نه پوهېږي دا چې زموږ ولس وژلې بلکې زموږ پر دیني او ملي مقدساتو یې هم ملنډې وهلي چې زموږ د مجاهد ولس د کلک غبرګون سره مخ شوي.

ښاغلی اوباما په دې ښه پوهېږي چې جګړه ورځ تر بلې ترینګلې کیږي او د جګړې لمن پراخیږي، زه نه پوهېږم چې امریکایي قواوې په افغانستان کې څه وخت او چېرې د دفاع په حال کې وې چې ښاغلی اوباما یې یادونه کوي. زما په اند د امریکا د حکومت پالیسي داده چې خپل ولس ددې جنګ د اصل حقیقت نه لرې او غافل وساتي، دوی تل هڅه کړې داسې وښايي چې امریکایي فوځونه په خپلو هدفونو کې برلاسي دي او مخالفین نور د جګړې توان نه لري او امریکایان نړۍ ته د ترهګرۍ بریدونو نه نجات ورکوي، چې دا پرونۍ وینا یې دهمدې پالیسۍ یوه برخه ده هر څه چې دي پر هغې اوس ټول پوهیږي چې غوا توره او شودې سپین دي.

زما اصل مطلب د ښاغلی اوباما ددې نا اعلان شوي سفر په هکله دی چې نه ترې افغان دولت او نه هم رسنۍ خبرې وی زما پوښتنه داده چې که چېرې افغان دولت رښتیا هم یو دولت وي نو د یو بهرني لوړ پوړي چارواکي د راتګ لپاره څه قانون شته که نه؟ د بانډنیو چارو وزارت ددې لپاره څه ډیپلوماتیک قوانین لري که نه؟ چې د یو ملك ولسمشر بل هېواد ته د تګ لپاره باید څه وکړي؟ د. کوربه هېواد له لورې وبلل شي او که د ورتګ اجازه واخلي.

او که نه ښاغلي اوباما دا هېواد دخپل هېواد له لورې یو ایل شوي هېواد ګڼي چې څه یې خوښه شي او څنګه یې خوښه شي کوي یې. چې آیا دا ډول کړنې به د مخالفینو هغه ادعاو ته چې افغانستان د بهرنیو هېوادو او په ځانګړي توګه د امریکا له لورې اشغال شوې رښتونی نکړي او د مخالفینو لیکي به لاپیاوړې نکړي که ځواب هو وي نو د دا ډول کړنې به ددې خبرې ښکاره ثبوت نه وي چې امریکا غواړي افغان دولت کمزورې، بې ثباته او په نهایت کې یو مزدور حکومت وښايي او د خپل ولس باور پرې نور هم راکم کړي.

دا کوم ډیپلوماتیک قانون دی چې د یو هېواد ولسمشر دې په بل هېواد کې د خپلو عسکرو او یا ډیپلوماتیکو ځایونو لیدنه وکړي خو پر کوربه هېواد او دهغې پر ولسمشر دې سلام قدرې هم نه اچوي. په ظاهره خو یې د سلام نه اچولو لامل یې د هوا خراب والې وښود خو په کابل کې نه هوا دومره خرابه وه چې د تیارو د ناستې پاستې لپاره دې وړ نه وي او نه هم ښاغلی اوباما له کابله دومره لرې وه چې هلته هوا د کابل د هوا سره دومره فرق کوي؟ خو افغان چار بې واکو ته یې دا ښوده چې خان هم دا کوي هم دا. افغان ولس د ښاغلی اوباما دا راتګ افغانستان ته د افغانستان پر حریم او خاوره یو برید او د خپل حکومت سپکاوې ګڼي او له افغان دولته غواړي چې د بهرنیو چارو د وزارت له لارې دې دغه مسئله وڅېړي او په راتلونکې کې دې د بهرنیو هېوادونو پر اتباعو دې جدي څارنه وکړي که هغه د هرې کچې خلك وي او خپل حکومت دې د سوال لاندې نه راولي.

چې تير شي هغه هير شي!

مولوی امين الله ازره وال

تقريبا څلور لسيزې پخوا افغانستان کې د وخت نړيوال زبر ځواك شوروي اتحاد تر څارنې اوسرپرستی لاندې د کمونيزم سپېره اوشوم تخم وشيندل شو،اوپه خورا چټکی سره يې زمونږ په ملت کې وده وکړه او تر ټولو دمخه يې داسلام او مسلمانانو پرخلاف يې پيل وکړ، بدبختانه د وخت بې همته حکمرانان هم د هغوی په لور مايل او د ودې چانسونه يې ورته برابر کړل.

بل پلوته له نېکه مرغه د کمونيزم ،فيوډاليزم او داسلام ضد حرکاتو پرخلاف داسلامي ويښتابه بنسټ هم کېښودل شو او په ملت کې د اسلام نوی روح او نوې ساه وچلېده،خو لږه موده وروسته داسلامي ويښتابه يوشمېر مشران ،ديني عالمان اومبارزه کوونکي په بند کې واچول شول او يو شمېر نور په شهادت ورسېدل او بالاخره خبره دې حدته ورسېدله چې يو شمېر يې هجرت ته اړشول او له هجرت څخه وروسته څه محدود وسلوال فعاليتونه پېل شول په همدې جريان کې کمونيستان هم په مستقيمه توګه قدرت ته ورسېدل اودملت په خلاف يې هغه کاروايانې وکړې چې اخر ملت له جهاد او قيام څخه پرته بله لار نه درلوده.دملا،پير،شيخ ،استاد،مشر،دقوم مشر او نورو په ځورولو او وژلو يې پيل وکړ،هماغه وچې ملت داسلامي حرکت له تر شاه ودرېده اودخلقيانو پرچميانو پرخلاف يې جهاد پيل کړ د جهاد او د هجرت په اوږدو کې خبره دې حدته ورسېدله چې روسانو په افغانستان باندې يرغل وکړ او د حفبظ الله امين حکومت يې رانسکور کړ اوپرځای يې ببرک کارمل دپرچم ګوند مشرد شوروي اتحاد په ټانګ سپور راوړل شو اپه په چوکی يې کېناوه، زمونږ اسلامي هيواد د روسانو مستعمره شوه،د شوري له يرغل سره په افغانستان کې جهاد اومبارزه نوره هم تونده شوه او مجاهدينو دروس په مقابل کې نړيوال ملاتړهم ترلاسه کړ،خوبل پلوته دمجاهدينو ترمنځ هم اختلافات رامنځ ته شول او متعدد تنظيمونه او ډلې جوړې شوې،دلته مونږ د دې اختلافاتو په لاملونو باندې خبره نه کوو،چې ولې تعدد رامنځ ته شو او لاملونه يې څه وو؟ له دې تعدد سره سره مجاهدين دفتحې پړاوته ورداخل شول. شوروي اتحاد ماتې و خوړه او د کمونيزم سمبول دلينن مجسمه آن په کريملن کې را ونړول شوه ، خلکو پرې لعنت ووايه او لاړې يې ورتو کړې اوپه همدې سره د افغان جهاد له برکته افغانستان د شوروي اتحاد د امپراتورۍ د ماتې هديره شوه.

په پای کې د نجيب پاتې شونی کمونستي نظام هم دمجاهدينو په لاس رانسکور شو او مجاهدين کابل ته متاسفانه له يوه کمزوري حکومت سره ورننوتل،له بده مرغه د فتحې سره سره مجاهدين په دې ونه توانېدل چې اسلامي نظام رامنځ ته کړي او بنيادي سبب يې دا و چې په دې نه پوهېدل چې دښمن لاپه کمين کې دی اوپرته له اتحاد،ورور ولۍ او رواداری داسلامي نظام قيام له سره ممکن نه دی ،داقتدار په سر خپل منځي جنګونه پيل شول ،پاتې شونيو کمونستانو ته هم ښه چانس په لاس ورغی، ځينې يې په يوه پلوکې منظم شول او ځينې نور يې په بل پلوکې ، پاټک سالاري او قومندان سالاري رامنځ ته شوه او زمونږ خوارملت له يو بل غم سره لاس په ګريوان شو ، دغه ډيربدحالت، د هغه چا لاسونه هم ککړ شول چې د جهاد په دوران کې له عمري خلافته راښکته په بل نظام باندې قانع نه وو،د افغانستان په ګوټ ګوټ کې بوګنونکې .پېښې او حوادث رامنځ ته شول ، وضعيت خورا خراب شو او زمونږ د مسلمان ملت او شهيدانو ارمان له خاورو سره خاورې شواو ډيرخلك له اسلام څخه هم زړه تورن شول..

په همدې بدحالت کې دطالبانو اسلامي تحريك رامنځ ته شو اوپه ډيره چټکی سره يې تقريبا په ټول افغانستان باندې تسلط پېداکړ،ځکه چې د ملت ملاتړ ورسره ملګری وو،او په نتېجه کې يې دطالبانو اسلامي امارت رامنځ ته شو.

د طالبانو د اسلامي امارت پښه لاپه زمکې نه وه ټينګه شوې چې دامريکايانو دصبر کاسه راپه ډکېدو شوه اونور ورته طالبان د زغملو وړ نه وو،په افغانستان باندې يې نظامي يرغل وکړ ، دطالبانو اسلامي امارت يې رانسکور کړ اوپه دې سره زمونږ ملت د بل سترځواك له استعمارڅخه را لاندې شو چې ترنن پورې دوام لري او ان شاء الله لري نه ده چې دا امپراتوري هم د افغانانو په لاس ماته شي.اودا افتخارهم زمونږ په برخه شي.

خو له دې سره سره چې افغانستان د يرغلګرو امپراتوريو داسې هديره ده چې تل يې پکې ماته خوړلې ده خوافغانان په دې نه توانيږي چې د جهاد له ثمرې څخه ګټه پورته کړي او اسلامي نظام رامنځ ته کړي،په دې ډګر کې يې تقريبا تل ماته خوړلې وي، اوس د همدې تجربو په رڼاکې ډير مسلمان وګړي لاس ترزنې ناست دي او د دې تېرو تجربو دومره زياته يادونه کوي چې د خپل راتلونکې په اړه له سره نه فکر کوي اونه کار،دا خولاپريږ ده چې کله بل څوك هم اقدام کوي نودوی يې مخه ورډب کړي او ورته وايې چې تېرو مجاهدينو او مبارزينو څه توره وکړه چې تاسې به يې وکړی، ځېنې نورخويې مخه نه ډب کوي خو باورهم نه وربانديې کوي،هر کارته يې دشك په سترګه ګوري ،په ظاهر باندې يې اعتبارنکوي،حال داچې مونږ ته شريعت حکم کوي چې حکم به په ظاهر باندې کوو،دزړونو په اسرارو باندې يواځې الله پوهيږي ،د الله رسول چې الهي وحې به ورته راتله ، هغه هم په ظاهر باندې حکم کاوه

يوشمېر نوربيا بې تفاوته دغربي بداخلاقی په ګرداب کې ډوب دي،چې نه دملت په غم کې دي او نه دايمان،په هره طريقه چې ورته ممکنه وي دخپل ځان لپاره وچ او لامده په پټو سترګو راجمع کوي او دهيځ ډول ارزښتونو پروانه ساتي.

زمونږ د ملت په ذلت او ورځ تربله ځوړتيا کې ، له ډيرو نورو خارجي او داخلي لاملونو سره يو داسې عمده اومهم لامل هم مل دي چې تقريبا د ملت زيات و ګړي په کې ونډه لري چې هغه د تېرو شويو ناکامو تجربو دومره يادونه ده چې په نتيجه کې هسې تش لاس ترزنې ورته ناست وي او دراتلونکې لپاره هيڅ ګام نه پورته کوي چې دا هم په خپل وار د ملتونو لپاره وژونکې ناروغي ده. مونږ په دې لنډه ليکنه کې په همدې باندې بحث کوو:

له تير نه پند واخله او بس!

تيرې شوې ناکامې تجربې ځان ته را يادول او بيا د هغوله کبله دومره غمجن کېدل چې بيا وګړی لاس تر زنې کيني او کومې نوې تجربې او کار ته له دې امله لاس نه ور وړي چې هسې نه چې بيا ناکام شم اويايې له اسلام څخه زړه تورن کړي، دا کار دعقلمندو او هوښيارو انسانانو له نظره حماقت او لېونتوب دی،هوښيار قوم او انسانان تيرې شوې ناکامې تجربې دومره اندازه خپلې مخې ته ږدي چې درسونه ترې واخلي او توبه ورڅخه وباسي او دبيا لپاره ترې ځان وژغوري نور له دې پورته د تيرو شويو کارونو دوسيه ترې، لاس تر زنې ورته نه کيني ، هغه له ياده باسي اوپه داسې بنده او تياره بندي خانه کې يې بندي کوي چې له سره يې رڼا له ستر ګونشي،ځکه چې يومشهورمتل دی چې تيرشي هغه هيرشي،په پښتو کې يو بل متل هم دی چې کله اوبه له ورخه تېرې شي هغه بېرته نه راګرځي، هوښيارې پرګنې او انسانان په تيرو پسې له حده زيات خپل سرونه او تندي په ځېږو نه وهي،بلکې د بيا لپاره پام کوي،ځکه چې کله لمر له ختيځ څخه راپورته شي او د لويديځ په لور روان شي هغه څوك بېرته نشي را ګرځولای ،او يا د دې مثال داسې دی لکه څوك چې دا کوښښ کوي چې کمکی د مور نس ته بېرته ورننه باسې او يايې داسې مثال دی لکه څوك چې له سترګو را وتلې اوښکې بېرته په سترګوکې ور دننه کوي ،که څوك له خپلې ماضی سره دومره اندازه لاس او ګريوان وي لکه چې پورته يې يادونه وشوه،دا ډول خلك اوقوم به هيڅ کله له غم،خفګان،انديښنو او ذلت څخه نجات پېدانکړي اونه به دخپل دين او دنيا لپاره څه ترلاسه کړي خسر الدنيا والاخرة به شي،يا په بل عبارت نه به د دين شي او نه د دنيا.

له مېږي څخه يې زده کړی:

دا ډول انسانان اوقومونه له مېږي څخه هم کم فکره اوکم همته دي، او د کوچنې مېږي همت له دوی څخه لوړ دی،وايي چې يوه نوميالي شخص يو ګوډ مېږی وليده چې د غنم دانه يې په خوله کې نېولې وه ، د پاڼ له بيخه به روان شو کله به چې دپاڼ سرته تقريبا ورسېده، بېرته به د غنم له دانې سره دپاڼ بېخ ته راپرېوته،په همدې توګه دا کار تر ووځلوپورې تکرارشو خومېږی مايوسه نه شو په سلم ځل مېږی په خپله موخه اوهدف کې بريالی شو،نوهماغه و چې هغه بياله دې ميږي څخه عبرت واخيسته او کارته يې ملاوتړله،اوخپلې موخې ته ورسېده.

نو ولې مسلمان دومره بې همته شي چې له يوې تجربې سره يې زړه له پوندو تيرشي او دومره وارخطاء شي چې دخپلې نېکمرغی لپاره بيا له سره قدم نه پورته کوي

په ډير وير او ژړا مړي له ګوره مه راباسه:

څوك چې په تيرو شويو کارونو له حده زياته ژړا او فرياد کوي او د هغو بيا بيا يادونه کوي، نو هوښياران ورته وايې چې اوس مړي له ګوره مه را باسه، د راتلونکي په اړه فکر وکړه، هوښياران دا هم وايي چې خلك مړي ښخوي،خو ورسره ژوندي د خپل ژوندون لپاره کار هم کوي،خلك داسې نکوي چې ديوه مړي له کبله له ژوندون څخه لاس په سر شي،ډير خله تېره شوې دوسيه په سړي باندې موجوده وخت او راتلونکی خرابوي، دتېر په پرتله راتلونکی ډير ارزښت لري،الله تعالی دتېرو شويو پرګنو او قومونو په هکله فرمايي)تلك امة قدخلت لهاماکسبت ولکم ماکسبتم ولاتسئلون عما کانوا يعملون (معنا داچې دهغوی دوسيه تړل شوې ده،له هغوی څخه له حده زياته يادونه کومه ګټه نلري،اونه د هغوی په عمل سره څوك دوزخ يا جنت ته ځي،دهرچا لپاره خپل دور او پېر وي چې ترسره کوي يې، هغه څوك چې په تېره شوې زمانه باندې ټينګار کوي،داسې مثال لري لکه يوځوك چې اوړه شوي جوار او غنم له سره بيا په ژرنده باندې اوړه کوي،وايي چې له خره پوښتنه وشوه چې ولې له جرئت څخه کار نه اخلې، هغه په ځواب کې ورته وويل چې زما دروغ نه خوښيږي،دا ډول خلك د خره په څېرمثال لري چې له ډيره احتياطه مخ په وړاندې قدم نه پورته کوي.

زمونږ دملت ستونزه:

زمونږ دملت مصيبت دا دی چې د تېرو شويو کړنو دومره زياته يادونه کوي چې له موجوده او راتلونکي څخه يې په غفلت کې اچولی دی،که انسانان او پېريان ټول سره راغونډشي، نو تېرې شوې کړنې بېرته نه شي را ګرځولای،نوځکه مونږ داخبره کوو چې په تېرو کړنو باندې زيات ټينګار کول د بې عقلو خلکو کار دی،لويديځ چې نن ورځ پر مسلمانانو باندې برلاسی دی،د هغوی اصول دا دي چې په تيرو شويو کړنو باندې خپل زيات وخت نه خرابوي،د هغوی زيات ټينګار په حاضر او راتلونکي باندې دی،هغوی دخپل راتلونکي اوموجوده په خاطر د پرون ورځې له دښمن سره يوځای کيږي او داسې تعامل ورسره کوي چې ته به فکر کوې چې د دوی ترمنځ هيڅ ډول دښمني نه ده تېره شوې ،ځکه هغوی پوهيږي چې راتلونکی زيات ارزښت لري،په تيرو کړنو باندې زياتې کولمې نه خوري،نن سبا که د افغانانو حالت ته وکتل شي نو له نورو ټولو څخه زيات په همدې مرض باندې اخته دي،شپه او ورځ په دې خبره باندې سره مصروف دي چې فلانې ګوند داسې داسې بدکارونه وکړل،يلانکې رهبر داسې داسې کارونه وکړل،ټول وخت خپله درنه او دبل سپکه وايي ،له ټولو زيات هغه بې دينه ګوندونه او اشخاص چې د افغانستان د دې ذلت اوځوړتيا اصلی عاملين دي او پرون يې د شوروي اتحاد کمونستي ډول ته په تنګ پتلون کې دواړه لاسي اتڼ اوګډا کوله ، نن هماغوی دامريکا صليبي باجې اوسورنې ته په خلاص ګريوان،په ورين تندي، ښځه او نر په مکېز اوډالريزه او پرمخ تللې نڅا کوي ،له دې ټولو جنايتونو سره سره په نورو باندې انتقاد کوي چې افغانستان خو دوی دړپه دره کړ ،زمونږ دهيواد،مجلې، ورځپاڼې او تقريبا ټولې خپرونې په دې کار باندې مصروفې دي ،پړه او وړه يو برابر په دې کاربانديې اخته دي، د هغه مشهور متل مطابق خپل عيبونه ورته د ولومنځ او دنورو عيبونه ورته دپټي منځ دی، وايي په يوه کلي کې خلکو پريکړه وکړه چې سبا ورځ به ديوسان ښه وډبوو ،کله چې سبا شو نو ديوسان له ټولو د مخه کوتکي په لاس ميدان ته راووتل چې ديوسان څه شول چې سخته جزا ورکړو،دامريکا له اشغال سره افغانانو ته د ديموکراسی له برکته دا سوغات په لاس ورغي چې ديوسان اوجنايت کاران پکې له ټولو مخکې دي،زمونږ ملت چې څومره اندازه داخلي جنجالونو در په در کړی دي ، په دې اندازه نورو نه دی برباد کړی.

په شاتګ له الهي نواميسو سره ټکردی:

هوښيار انسانان او پرګنې تېرو شويو کړنوته زيات التفات او نظر نکوي اونه د ماضی تر مېخ تېيلې پورې خپل ځانونه دومره کلك تړي چې دخپل موجوده او راتلونکي په اړه قدم هم نشي پورته کولای،هوښيار انسانان او پرګنې راتلونکي ته زياته پاملرنه کوي،ځکه چې په حاضر او راتلونکي باندې دانسان دنيا او اخرت دواړه لاس ته راتلای شي، که وکتل شي هرڅه مخ په وړاندې درومي،بادونه اوتوپانونه مخ په وړاندې درومي،اوبه اوسيندونه مخ په وړاندې ځي اوقافلې او کاروانونه هم مخ په وړاندې خپل مزل ته دوام ور کوي،بېرته په شا نه راګرځي.

نوبايد زمونږ دهيواد مسلمان جهتونه يوبل ته عفوه وکړي اويو بل ته دې له خپلو نفسي غوښتنو تېرشي ،دهيواد او ملت لوړ اهداف دې په نظر کې ونيسي اوپه خپلو کې دې روغه جوړه وکړي او هريو دې خپلو عيوبو ته پاملرنه وکړي ،تېردې هېر کړي ، له الهي نواميسو سره سم دې مخ په وړاندې قدم واخلي، دخپل ځان او ملت د راتلونکي د جوړونې فکر دې وکړي،په نورو دې زياته ملامتي نه باروي ،خپل ځانونه دې دخپلو غلطيو په اړه هم ملامت کړي،خپل ځان تبريه کول او ټوله ملامتي په نورو اچول د کمزورو،اوبې عقله پرګنو او اشخاصو خورا ستره نښه ده.

مسلمانه وروره !که نېکمرغي غواړې نوهمدادې ورځ ده، په تېرو کړنو باندې دومره مه اخته کېږه چې نور مړي له ګوره راباسې، ځکه چې: تېرشي هغه هېرشي.

له اصلاح آنلاين ويب پاڼې نه په مننه

شهادت اوونیزه

خپروونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي ځانگه

د امتیاز څښتن حزب اسلامي افغانستان

مسؤول مدیر عبدالله کامه وال

مرستیا ل مدیر عبدالخلیل (محمد خلیل)

داړیکې شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲

دیزاین خواجه وحیدالله

د کتنپلاوي تر څارنې لاندې

آدرس دحزب اسلامي دفتر

سیلو ته مخامخ خوشحال خان مینه

استفاده نیروهای امریکایی از ...

سلاحهای مرگبار ، قاعده بازی را در افغانستان تغیر دهد و نیروهای امریکایی را از شکست برهاند .

تاکنون خبر گزاریهای مختلف از استفاده نیروهای امریکایی و سازمان پیمان اتلانتیک شمالی ناتو مستقر در افغانستان از سلاحهای ممنوعه در افغانستان خبر داده اند .

در همین حال بسیاری از موارد استفاده از این سلاحها به دلیل سانسورخبری منتشر نمی شوند و به مرور ابعاد مختلف ان افشا می شود. این بدان معنا است که امریکا و ناتو افغانستان را به ازمایشگاه سلاحها و مهمات جدید خود تبدیل کرده اند و به بهانه مقابله با تروریزم از انواع سلاحهای مرگبار استفاده می کنند که در اینده ابعاد ان بیشتر افشا خواهد شد .

با این حال ، نیروهاي امریکایي و ناتو در افغانستان با ناکامي روبرو هستند و سلاحهای جدید امریکا نیز نتوانسته است به فرار نیروهای این کشور و ناتو از باتلاق افغانستان کمک کند. به همین دلیل به گزارش روزنامه یو اس ای تودی امریکا و شخص رئیس جمهور ی این کشور در جنگ افغانستان تنها تر از همیشه شده اند .

به نوشته این نشریه یکسال پیش بارک اوباما، رییس جمهوری امریکا، اعلام کرد که قصد دارد ۳۰ هزار نیروی نظامی جدید به افغانستان اعزام کند تا به جنگ پایان دهد و ایالات متحده بتواند از جنوری ۲۰۱۱ خروج نیروهای خود را از افغانستان آغاز کند. اما اکنون پس از گذشت یکسال از این وعده اوباما ، دولت امریکا تاریخ قید شده برای آغاز خروج نیروها از افغانستان را کمتر به میان می آورد و با تمر کز بر سال ۲۰۱۴ به عنوان زمان پایان واگذاری امور امنیتی به دولت افغانستان، سعی می کند وعده های پیشین خود را کمرنگ کند. این وضعیت باعث شده است تا مطبوعات و رسانه های امریکا اوباما را به بی کفایتی در مدیریت طولانی ترین جنگ این کشور متهم کنند.

نظر سنجی تازه روزنامه یو اس ای تودی و موسسه گالوپ نیز نشان می دهد که از هر ۵ امریکایی، تنها یک نفر از سیاست دولت امریکا در افغانستان پشتیبانی می کند. بر اساس این نظر سنجی، از هر ۱۰ امریکایی، ۴ نفر معتقدند که نیروهای امریکایی باید هر چه زودتر افغانستان را ترک کنند. ۵۴ درصد از شرکت کنندگان در نظر سنجی نیز معتقدند اوضاع در افغانستان به ضرر امریکا پیش می رود. وضعیتی که دولت امریکا را برای پیشبرد جنگ افغانستان با دشواری جدی روبرو کرده است.

سعودي د ترهگرو مالي ملاتړ ...

خصوصی یا شخصي خیریه ډلو له لوري سخت دریځو ته عموماً د حج په مراسمو او د روژې په میاشت کې پیسې ورکول کېږي.

په پیغامونو کې د سعودي عربستان چارواکي په دې ستایل شوي چې د تروریزم خطر یې جدي گڼلی او د امریکا تر فشار لاندې یې د سخت دریځو په تېره بیا د القاعده د مالي مرستود مخنیوي په برخه کې د پام وړ پرمختگ کړی دی .

خو په دې سند کې دا هم ویل شوي چې سعودي چارواکو له خپل هیواده افغان طالبانو او هغو ډلو ته چې د هند پرضد جنگېږي د مالي مرستو د رسېدو د مخنیوي لپاره محدوده هڅه کړې.

خو د امریکا د بهرنیوچارو د وزیرې هیلري کلنټن د ۲۰۰۹ کال په یوه یادداشت کې ویل شوي چې په سعودي عربستان کې د مالي ملاتړ په برخه کې د تروریزم پرضد مبارزه لا هم یو چلینج دی.

په سندونو کې همداراز ویل شوي چې د قطر، کویت او متحده عربي اماراتو په شمول د خلیج د سیمې نور هیوادونه لا هم د سخت دریځو د مالی ملاتړ سرچینې دي.

د ویکي لیکس له لوري د امریکا د بهرنیوچارو وزارت په نورو خپرو شویو سندونو کې ویل شوي چې د خلیج د سیمې عرب هیوادونه د سخت دریځو مهم مالي منابع دي او قطر له امریکا سره په همکارۍ کې تر ټولو بد هیواد بلل شوی دی.

په دغو سندونو کې راغلي چې امریکا د طالبانو د مالي ملاتړ اصلي سرچینه هغه مرستې بولې چې د خلیج شیخان یې طالبانو ته لیږي نه د مخدرو موادو له درکه ترلاسه کېدونکي عواید .د خلیج د سیمې هیوادونو د طالبانو مسلې ته پام نه دی کړی او په دې برخه کې یې ډېر تمرکز د امریکا پر استخباراتي معلوماتو کړی دی.

د ویکي لیکس له لوري په یوه خپور شوي سند کې ویل شوي چې سعودي چارواکي هم دا مني چې د حج له مراسمو څخه سخت دریځو د پیسو ټولو لپاره استفاده کوي.

له بلې خوا شرق الاوسط عربي ورځپاڼې د شنبې په گڼه کې د سعودي عربستان د امنیتي مقاماتو له قوله راپور ورکړ چې په وروستیو کې له نیول شویو سخت دریځو ورته څرگنده شوه چې دې کسانو د پاکستان له سبل خپلو سره د مرستې په نوم پیسې ټولولې خو هغه یې القاعده شبکې ته ورکولې.

اروپا په افغانستان کې د ...

خاطر څکه چې نور هیڅوک باور نه لري چې د افغانستان حالات به سم شي. "

د امریکا اروپایي متحدان په افغانستان کې شاوخوا دېرش زره عسکر لري چې د ناټو تر مشرۍ لاندې د ایساف په چوکاټ کې فعالیت کوي.

تېره میاشت د ناټو ترون غړیو یو پلان تصویب کړ چې پراساس به یې له راتلونکي کاله افغان امنیتي ځواکونو ته د خپل هیواد امنیتي چارې په تدریجي ډول سپارل کېږي اود ناټو پوځي رول به په ۲۰۱۴ کې یومخ پای ته رسېږي.

قصر سفید در حال تجدید نظر ...

رشد کیفیت نیرو های افغان نیز مورد ارزیابی قرار می گیرد.

به نوشته‌ء رویترز، موفقیت استراتیژی امریکا در پاکستان به منظور از بین بردن پناه گاه های امن شورشیان نیز مورد بررسی قرار می گیرد.

رویترز می نویسد، تجدید نظر استراتیژی جنگ افغانستان اول به کانگرس ایالات متحده ارایه می شود و بعداً به تاریخ سیزدهم ماه دسامبر امسال یعنی حدود یک هفته بعد، برای عامه مردم، اعلام خواهد شد.

به نوشته‌ء رویترز، مقامات نظامی امریکا و ناتو، وزارت خارجه‌ء ایالات متحده، سایر ارگان این کشور و حکومت های افغانستان و پاکستان در تجدید نظر این استراتیژی سهم دارند.

رویترز به نقل از مقامات امریکایی نوشته است، نتایج تجدید نظر ممکن در بر گیرنده تغییرات ناچیز در عملکرد نظامی ایالات متحده و تیم های غیر نظامی آن کشور در افغانستان باشد و یا تغییر منابع از یک قسمت کشور به بخش دیگر کشور باشد. ولی انتظار نمی رود که تغییر عمده ای در استراتیژی و عملیات در این کشور به وجود بی آید.

سهم بیشتر نیرو های افغان در جنگ علیه شورشیان، با منفعت ها همراه بوده است.

به نوشته‌ء آژانس خبری رویترز، اظهارات مقامات امریکایی در حالی صورت می گیرد که خشونت ها در ماه های اخیر در افغانستان افزایش یافته است. علاوه بر آن، بر اساس سروی که اخیراً انجام شد، نشان می دهد که افغان ها به مسیر که کشور شان در حرکت است، بدبین هستند.

در مورد چگونگی تجدید نظر استراتیژی جنگ افغانستان، رویترز می نویسد، شورای امنیت ملی قصر سفید اهدافی را که سال گذشته در استراتیژی تعیین شده بود، مورد ارزیابی قرار می دهد که آیا برای رسیدن به اهداف از قبل تعیین شده، پیشرفت صورت گرفته یا نه؟

بر اساس معیار های تجدید نظر این استراتیژی، وضعیت فعلی افغانستان در بخش مبارزه علیه تروریزم، امنیت، انکشاف و حکومتداری با اوضاع سال گذشته مقایسه می شود.

علاوه بر آن، پلان حکومت افغانستان به منظور مصالحه با تعداد از عناصر طالبان و

تلاش حکومت برای شفاف سازی ...

بخش استخراج شفاف معادن و معلومات موثق و واضح در مورد منابع، کار می کند. افغانستان بزرگترین قرارداد در بخش معادن را با یک شرکت چینی به امضا رسانده است.

شرکت "ام سی سی " چین در مناقصه ای که شرکت های امریکایی نیز اشتراک داشتند، برنده گردید و توافق استخراج معدن مس عینک را با دولت افغانستان امضا نمود. مقام های دولت افغانستان می گویند در صورتی که افغانستان عضویت "سازمان شفافیت صنایع استخراجی " را به دست آورد، تمام قرارداد های این کشور در عرصه معادن از طریق این سازمان ثبت می شود و به نشر می رسد. هم چنان مسوولیت رسیدگی به شکایت های شرکت های داوطلب نیز مربوط به این سازمان می شود.

حضرت عمر زاخیلوال، وزیر مالیه افغانستان در کنفرانس مشترکی با وحیدالله شهرانی، وزیر معادن افغانستان گفت که این دو وزارت سعی می کنند پیش شرط های عضویت در "سازمان شفافیت صنایع استخراجی " را فراهم کنند. زاخیلوال گفت: "شرایطی را ما تا کنون پوره کرده ایم به شمول عضویت جامعه مدنی، حکومت، به شمول نمایندگان کمپنی های استخراج معادن. ما از این ها یک گروپ مشترک می سازیم و این گروپ برای استخراج شفاف معادن پیشنهاداتی ارایه می کنند " به گفته این مقام ها، دو سال وقت نیاز است تا افغانستان بتواند شرایط عضویت در این سازمان را به دست آورد.

نظامیان انگلیسی تا اوایل سال ...

ویکی‌لیکس، وظیفه ایجاد امنیت در ولایت "هلمند " افغانستان بر عهده نظامیان انگلیسی مستقر در پایگاه نظامی طالبان در این ولایت نبوده است.

پایگاه اینترنتی ویکی لیکس اوایل هفته گذشته اسنادی را منتشر کرد که انتشار آن موجب نگرانی شدید امریکا و هم پیمانان آن کشور شده است.

بنا به عقیده کارشناسان، اسناد به اصطلاح محرمانه ویکی لیکس شامل برخی موضوعات کاملا بدیهی در کنار دروغ‌هایی بزرگ از نوع امریکایی می‌شود که در پشت پرده انتشار آنها سایه دولت امریکا و کاخ‌سفید مشاهده می شود و توطئه‌ای جدید برای تحقق اهداف سلطه‌جویانه واشنگتن است؛ هر چند بعضا در میان این دروغ‌های بزرگ برخی آمار و ارقام و اطلاعات را نیز می توان مشاهده کرد که با وجود صحت آنها پیش از این هرگز به آنها اشاره‌ای نشده بود. اما به طور کلی بیشتر به نظر می‌رسد که واشنگتن با گنجاندن این اطلاعات در سری اسناد جدید که با واقعیت نیز شباهت بسیاری دارد، در تلاش است تاحدودی از شدت دروغ‌های بزرگی که در کنار آنها مطرح کرده، بکاهد.

افغانستان د نړۍ والو رسنیو په هنداره کې

فارن پالیسي:

فارن پالیسي خپرونې په دې اړه لیکلي دي، چې دا سفر هغه نوې نښه ده چې په افغانستان کې د ولسمشر اوباما پالیسي په بشپړ ډول په نوسان کې څرگندوي.

ولسمشر اوباما په بگرام کې امریکایي عسکرو ته وویل، موږ نن په دې وياړ کولای شو، چې ډیرې کمې سیمې د طالبانو تر کنټرول لاندې دي او زیات افغانان راتلونکې ته هیله مند دي. ده زیاته کړه، چې امریکایي عسکر به په افغانستان کې په خپل ماموریت کې کامیاب شي.

فارن پالیسي لیکي، چې په واشنگټن کې چارواکي غواړي په دې پوه شي چې څرنگه بریالیتوب ترلاسه کیدای شي. دوی په دې هڅه کې دي چې د ټولو سازمانونو او ادارو په اړه معلومات تر لاسه کړي، چې په یوه ډول ته یوه ډول د سیمې په حالاتو کې دخیل دي.

دا خپرونه لیکي چې سپینه ماڼی غواړي په دې پوه شي چې د پالیسو کومه برخه یې بریالی ثابته شوې ده او کومه برخه یې ډیره بریالی نه وه.

په روان دوبي کې د استیف کول په نوم یوه سیاسي څارونکي ویلي وو، چې د ډیسمبر په میاشت کې باید په افغانستان کې د امریکا د پالیسي ارزیابي پر اساسي سوالونو او ریښتینیو سیاستونو تمرکز وکړي.

باید په دې تمرکز وکړي چې ایا د افغانستان خلک او رهبران د هغه هدف په لټه کې دي، چې نړیوال متحدین یې غواړي؟

فارن پالیسي خپرونه لیکي، افغانان نن ورځ په هغه ځای کې نه دي، چې د طالبانو د رژیم تر سقوط وروسته په اولو کې وو. هغه وخت د افغانستان حکومت په پراخ ډول د ملي او نړیوال وحدت څواک پیژندل کیدو خو تر ۹ کلونو وروسته اوس هغه وحدت نشته. د ټولو اړخونو تیروتنو دا وحدت له منځه وړی.

گارډین:

د بریتانیا چاپ ورځپاڼه گارډین بیا د سعودي عربستان له خوا د یوشمېر وسله والو ډلو د تمویل په اړه مقاله لیکلې ده. د ورځپاڼې په باور په خلیج کې د امریکا تر ټولو نږدې سیاسي او نظامي متحدینو امریکا د دښمن په څیر ستونزې پیدا کړې دي. د ویکي لیکس د اسنادو پر اساس، سعودي عربستان اوس د وسله والو اسلامي ډلو چې طالبان او لشکر طیبه هم په کښې راځي ستر تمویلونکی دی.

گارډین لیکلي، د هغه سند په اساس چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې تېر کال لاسلیک کړی، سعودي عربستان په نړۍ کې د سني مسلمانانو له سترو تمویلونکو څخه و.

د دې منبع په لیکنه، یوشمېر ستونزې په سعودي عربستان کې د ظرفیتونو نشتوالي ته راگرځي. هر کال سل هاوو زره تنه سعودي ته د حج لپاره ځي. دا کسان په سعودي عربستان کې زیاتې پیسې مصرفوي خو د سعودي حکومت د هغوی مخنیوی نه شي کولای.

گارډین لیکي، یو شمیر وسله وال د حج په مراسمو کې سعودی ته داخلیږي او بیا د مرستو ټولنو ته ورځي او په دې ډول د سعودي له حکومت سره ثبت شوې خیریه ټولنې له هغوی سره مالي مرسته کوي.

یوشمېر سندونه دا هم څرگندوي، چې د سعودي عربستان د چارواکو له خوا د وسله والو د هڅولو د چارو په‌مخنیوي کې ستونزې شته او دا باید د ریاض لپاره په ستراتیژیک الویت بدل شي.

د ۲۰۱۴ تر پایه بریالیتوب په شک ...

داسې هیڅ شی مطمین نه دي او وبه نه وایم چې پوره ډاډه یم. "

په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو عمومي قوماندان جنرال ډیوېډ پیټریوس اې بي سي ته همداراز وویل چې د افغانستان د ولسمشر له لوري د امریکایي ځواکونو پر عملیاتو انتقاد حیران کړی خو له دې سره سره په دې خاطر استعفا نه کوي.

ده وویل چې د کرزي دې غوښتنې چې امریکایي پوځیان دې عام محضر ته لږ راوځي او د خپلو عملیاتو شدت دې کم کړي، حیران کړی دی.

کرزي د تېر نوامبر په نیمایي کې له واشنگټن پوسټ ورځپاڼې سره په مرکه کې ویلي وو: "هغه وخت رارسېدلی چې امریکایي ځواکونه د خلکو د استوگنو له سیمو لېري شي. "

پیټریوس وویل چې د کرزي د مرکې له خپرېدو څو ورځې وروسته یې په دې اړه له ولسمشر کرزي سره خبرې وکړې.د ده په وینا کرزي ورته وویل چې خپلې پخوانۍ څرگندونې یې تکرار کړي.

پیټریوس زیاته کړه چې له کرزي سره همکاري ته دوام ورکولی شي.

کرزی په ځانگړي ډول د شپې په مخه د نړیوالو ځواکونو له عملیاتو سره مخالف دی او وایي چې دا کار افغانان د امریکایانو پرضد پاروي او د طالبانو د پیاوړتیا سبب کېږي.

د امریکایي او ناټو ځواکونو عمومي قوماندان وویل چې طالبان د بیا راټگ وس لري ، له همدې کبله د دې ډلې د فعالیت د پراخېدو مخنیوی د دوی تر ټولو لوړ لومړیتوب دی.

پیټریوس د دې پوښتنې په ځواب کې چې ایا امریکا د افغانانو د ملاتړ په خپلولو کې پاتې راغلې، وویل : "دا مهمه ده چې د افغانستان خلک خبر شي چې امریکایان ولې په افغانستان کې حضور لري. "

پیټریوس د دې پوښتنې په ځواب کې چې طالبان وایي د افغانستان د خاورې پنځوس فیصده یې تر کنټرول لاندې ده ، وویل : طالبانو ته به زما ځواب دا وي چې که د افغانستان د خاورې لویه برخه د دوی تر واک لاندې وي نو بیا ولې د دوی مشران له افغانستانه دباندې اوسي.

په افغانستان کې سیاسي روغه ...

چاودونکو موادو په وسیله د حملو د کمېدو اصلي عامل و. زه باور لرم چې په افغانستان کې هم دا کار ممکن دي. "

برید جنرال اوتیس په واشنگټن کې خبریالانو ته همداراز وویل: د افغان ځواکونو روزنه، پر وسلو سمبالول او د چاودونکو موادو له موندونکو سپو څخه کار اخیستل د دا ډول حملو د کمولو لپاره مهم دي.

دا په داسې حال کې ده چې لوېدیځ هیوادونه تر فشار لاندې دي، چې باید هغه جگړه چې په ۲۰۰۱ ع کال پیل شوې، پای ته ورسېږي.

د امریکا ولسمشر بارک اوباما ویلي، چې نړیوال ځواکونه له راتلونکي کاله افغان ځواکونو ته د خپل هیواد د امنیتي چارو سپارل پیلوي او تر ۲۰۱۴ پورې به دا پروسه بشپړه کړي.

له بلې خوا امریکایي چارواکو ویلي، چې په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو د شمېر زیاتېدا او د یاغیانو پرضد په جگړه کې د افغان ځواکونو د ونډې ډېرېدا گټه کړې ده.

د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې، امریکایي چارواکو دا خبرې په داسې وخت کې کړې، چې په وروستیو میاشتو کې په افغانستان کې جگړه تر بل هروخت سخته شوې.